د افغانستان ملي انسجام حرکت

**حرکت انسجام ملی افغانستان**

**National Integration Movement of Afghanistan**

# د نیما د اساسي اقداماتو او فعالیتونو راپور

**13 اسد 1400 – 4 August 2021**

نړیوال امنیتي ځواکونه افغانستان ته له دریو ځانګړو شعارونو سره راغلی وو لکه، (۱) د نړیوال تروریزم ځپل. (۲) د نشه يي بوټو کښت محوه کول. (۳) ښه حکومتولي رامنځ ته کول، خو له بده مرغه چې د دې دریو مهمو ژمنو په عملي کولو کې پاته راغله، نه یوازې دا چې دا درې ژمنې عملي نه شوې، بلکې د دوی له راتګ سره په افغانستان کې نوې ناخوالې هم پیدا شوې، لکه د نشه يي موادو د کښت، تولید، پروسس او استعمال ډېروالی، د تراهګرو ډلو ډېروالی، د ناامنۍ ډېروالی، د اداري فساد ډېروالی، د قانون نه عملي کېدل، د بشري حقونو تر پښو لاندې کېدل او داسې نور. اوس چې نړیوال نظامي ځواکونه له افغانستان څخه وزي دا مانا لري چې خپل ماموریت یې نه یوازې دا چې پوره نه دی ادا کړی، بلکې د دوی وتل غیر مسوولانه عمل دی، د دې تر څنګ افغانانو ته نورې ستونزې هم پیدا کوي، د دې ټولو نتیجه دا سوه چې افغانان پر نړیواله ټولنه په تېره بیا ناتو باندې بې اعتماده شوي دي.

دا خبرې یوازې په سیاسي کړیو پورې اړه نه لري، بلکې هر روشنفکر افغان یې اندېښمن کړی دی. په دې وخت کې جنرال حمدالله نازک او یو شمېر همفکره ملګري سره راټول او پورته اندېښنې یې سره شریکې کړې. تر یو لړ څېړنو وروسته معلومه شوه چې دا خطر ډېر جدي دئ چې هر افغان، نر او ښځه، لوی او کوچنی، ملکي او نظامي، کلیوال او ښاري، لوستی او نالوستی، د دولتي او نادولتي ټولنو پرسونل، په مجموع کې ټول ملت د خوندیتوب احساس نه کوي. تر دې وروسته دې حرکت ته د سیاسي ګوندونو استازي، د امنیتي ادارو جنرالان، قاضیان، ولسوالان، ښارنوالان، ژورنالستان، د ښځو د حقوقونو فعالان، مدني فعالان، فرهنګیان، دیني علما، قومي مشران، صنفي اتحادیې او د ټولنې د ټولو اقشارو استازي راګډ شول چې د پخوا په پرتله یې قاعده پراخه او افغانستان د ملي انسجام حرکت په نوم ونومول شو. وروسته یې د (نیما) په نوم خیریه بنسټ او یو حقوقي شرکت هم ورسره یو ځای کړ .

تر دې وروسته مو له پوره شهرت سره د هغو ولسي خلکو لاسلیکونو په راټولولو پیل وکړ چې غواړي د افغانستان د ملي انسجام حرکت له لارې د ناتو او هغوی د متحدینو پر وړاندې خپل اواز پورته کړي، دا اواز پورته کول د یوې عریضې بڼه لري چې د افغانستان د ملي خوندیتوب په نوم نړیوالې محکمې ته وړاندې کېږي. ملي انسجام حرکت په عیني وخت کښی ۴۰ کسیزه عالي شورا تشکیل کړه،چه وروسته پورته ذکر

شوی عالي شورا د ټاکنو له مخې د رهبرۍ شورا د جوړولو او همدارنګه د ولس ۱۱ کسيزي اداري کميټې (ټرسټيز) پريکړه هم وکړه د وخت په تيريدو سره د رهبري شورا په وړانديز د عالي شورا د غړو شمير ۱۲۱ کسانو ته پورته شو، عالي شورا صلاحيت لري چه د حرکت فعاليتونه وڅاري،خو ددی شورا د غړو په شمير کښی بدلون هم راتلائ شي.

نيما چي يو خپلواک خيريه بنسټ دي د افغانستان اسلامي جمهوريت عدليي وزارت څخه د فعاليت جواز لري او د افغانستان ملي انسجام حرکت مالي ملاتړ کوي، همدا ډول نيما همت حقوقي مشورتي شرکت د افغانستان ملي انسجام حرکت حقوقي ملاتړ کوي.

د ۱۳۹۸ کال د حوت د مياشتي په ۵ نېټه د افغانستان ملي انسجام حرکت اوله اعلاميه چي لس مادې پکي نغښتي وې په يوه عمومي غونډه کي د ميډيا پر مخ وړاندي سول، نړيوالو مراجعو، سازمانونو او د همدا کال د سرطان مياشتي پر ۱۰ او ۱۷ نېټو نړيوالو محکمو ته هم و ليږل سوه چي جواب مو هم تر لاسه کړي، همدا رنګه ذکر سوي اعلاميه په کابل کي ميشتو سفارتونو ته هم و ليږل سوله.

**د افغانستان ملي انسجام حرکت د لمړي اعلاميې متن**

**موږ د افغانستان د ټولو خلکو لپاره خونديتوب غواړو**

**۱۰ لمړنی د اعلاميې مادې (طرح) د افغانستان د ملي انسجام حرکت**

**د خپروني نيټه سه شنبه : ۹ ثور، ۱۳۹۹ (۲۸ آپريل ۲۰۲۰)**

د افغانستان خلک د نړيوالي تراهګرۍ قرباني دي او هره ورځ په دې لاره کې ځاني او مالي قربانۍ ورکوي. افغانستان که څه هم له نړيوالې ټولنې سره ستراتيژيک تړون لاسليک کړی او په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې نظامي او ملکي حضور هم شته، خو بيا هم په افغانستان کې روانه جګړه، سياسي کړکېچ، اداري فساد، د قانون نه تطبيق، د سولې په اړه پټې او ښکاره هڅې، د زندانيانو د خلاصون په اړه مبهم کوښښونه، نشه يي مواد، اسلامي، مدني او بشري حقونو ته ګواښونه هغه څه دي چې هر افغان ته يې نه يوازې دا چې اندېښنې پيدا کړي، بلکې هره ورځ د هر افغان په ژوند کې عملا ستونزې اضافه کوي.

په تېرو نولسو کالو کې د افغانستان ټولو اقشارو د نړيوالې تراهګرۍ پر ضد او افغانستان کې د ډيموکراسۍ، ملي ګټو او بشري ارزښتونو د ساتنې لپاره قربانۍ ورکړي دي. ديني علماوو او روحانيونو له محراب او منبر څخه اواز اوچت کړی، د امنيتي ادارو لوړ پوړو افسرانو او سربازانو د وسله والې مبارزې سنګرونو ته دانګلي، ولسونو په کلو او بانډونو کې پاڅونونه کړي، د عدلي او قضايي ادارو قاضيانو، څارنوالانو او حقوقپوهانو د عدالت د تامين لپاره مبارزه کړې، د هېواد ملي پانګه والو پانګونه کړې او عام ولس بيا د دولت، ملي او سياسي غورځنګونو، مدني ټولنو، د روشنفکرۍ بهيرونو او ټولنې د مخورو اشخاصو ملاتړ کړی دئ، نن چې د افغانستان د خلکو قربانۍ له پامه غورځول کېږي او د افغانستان ملي ګټو ته خطر پېښ شوی، د افغانانو اندېښنې پر ځای دي.

په تېرو نولسو کالو کې نویو سیاسي غورځنګونو تېغونه ووهل، نوي مدني او اجتماعي غورځنګونه راوټوکېدل او په دې رڼا کې نوي نهالګي وغوړېدل، اوس د افغانستان داسې سیمه او قشر نشته چې له دې نوي فکر او ارزښتونو سره دې په مادي او فکري لحاظ نه وي تړلی، اوس که د ټولنې د دې اقشارو، سیاسي ګوندونو، مدني حرکتونو، د ښځو د حقونو مدافع ټولنو، دیني او روحاني شخصیتونو او د ټولنې د مخورو شخیصتونو له مشورې، د اسلامي ارزښتونو او افغانانو د ملي ګټو په پام کې نیولو، د پیاوړې نړیوال ضمانت او د نړیوالې تراهګرۍ د مالي سرچینو د وچولو پرته له طالبانو سره سوله کېږي، دا هغه څه دي چې هر افغان یې اندېښمن کړی دئ.

دا مهال د افغانانو اساسي ستونزه دا ده چې د افغانستان هیڅ یو قشر د امنیت او خوندیتوب احساس نه کوي، دا مهال د افغانستان خلک نه سیاسي، نه نظامي، نه اقتصادي، نه اجتماعي او نه هم محیطي خوندیتوب لري، زموږ اساسي غوښتنه دا ده چې موږ د ټولو افغانانو لپاره سوله او امنیت غواړو، دې غوښتنو باالاخره ملت دې ته اړ کړ چې د افغانستان د ملي انسجام په نوم یو حرکت جوړ کړي او له دې ادرس څخه خپل اعتراض وښيي.

په دې حرکت کې د افغانستان مدني ټولنې، صنفي اتحادیې، د امنیتي ادارو برحاله او متقاعد سلګونه جنرالان، د عدلي او قضایي ادارو قاضیان، څارنوالان، حقوقپوهان، د ټولنې مخور شخصیتونه، سیاستوال او عام ولس راټول شوی دئ.

د افغانستان د ملي انسجام حرکت په پام کې درلوده چې د دې اعتراض لپاره یوه لویه غونډه جوړه کړي، خو د کورونا وایرس په اړه د عامې روغتیا وزارت د لارښوونو له امله مو دا لویه غونډه وځنډوله او د اوس لپاره مو یوازې په دې عریضې اکتفا وکړه. موږ نه یوازې دا چې د ملت د بېلابېلو اقشارو په استازیتوب پر افغان دولت او نړیوالې ټولنې باندې اعتراض لرو، بلکې د دې ستونزې د حل لپاره یوه جامع سیاسي طرحه هم لرو چې په دې ډول ده:

۱: موږ د بین الافغاني مذاکراتو ملاتړ کوو، خو باید په دې مذاکراتو کې د افغانانو ملي ګټې د بحث اصلي موضوع وي.

۲: د دې لپاره چې د جګړې د دواړو خواوو باور یو پر بل ډېر شي او دایمي سولې ته لاره اواره شي، باید د حکومت او طالبانو تر منځ دایمي اوربند وشي.

۳: په افغانستان کې نشه یي مواد یوه نړیواله پدیده او د تراهګرۍ عمده مالي سرچینه ده، خو قربانیان یې عام افغانان دي، موږ غواړو چې له طالبانو سره په بین الافغاني مذاکراتو کې دا موضوع هم شامله شي.

۴: موږ په افغانستان کې سوله غواړو، خو یو داسې سوله چې هم د افغانانو ملي ګټې پکې خوندي شوي وي او هم د تراهګرۍ هغه عوامل له منځه یوړل شي چې نورو تراهګرو ډلو ته د ودې لاره اواروي.

۵: طالبانو د قطر په تړون کې امریکایانو ته ډاډ ورکړی چې د افغانستان خاوره به د امریکایانو پر ضد نه استعمالېږي، خو موږ له نړیوالې ټولنې، په تېره بیا له امریکا متحده ایالتونو او بریتانیا څخه دا ضمانت غواړو چې د ګاونډیو هېوادونو خاوره به هم د افغانستان پر ضد نه استعمالېږي.

۶: د افغانستان خلکو، په تېره بيا نظامي ځواکونو، عدلي او قضايي ارګانونو، د ملکي ادارو کارکوونکو او علمي برخو کارپوهانو په افغانستان کې د تراهګرۍ پر ضد نولس کاله مبارزه کړې، بايد له دې کارپوهانو څخه د سولې تر څنګ د حکومتولۍ په نورو چارو کې هم ګټه واخيستل شي.

۷: موږ د افغانستان ملي ګټې په جمهوري نظام کې خوندي بولو، که د جمهوري نظام د بدلون په اړه له چا سره هر ډول معامله کېږي، موږ يې مخالفت کوو.

۸: موږ د بنديانو د تبادلې ملاتړ کوو، خو که د طالبانو هغه زندانيان ازادېږي چې د تراهګرۍ تر څنګ د نشه يي موادو په قاچاقو کې هم مجرم پېژندل شوي، نو بايد هغه زندانيان هم ازاد شي چې يوازې د نشه يي موادو په جرم زنداني شوي دي.

۹: د طالب زندانيانو په نيولو کې د افغانستان نظامي افسرانو، څارنوالانو، قاضيانو، حقوقپوهانو او ملکي مامورينو لاس درلود، نن چې دا زندانيان ازادېږي، بايد د دې نظامي، ملکي دولتي مامورينو او ولسي خلکو د ژوند ضمانت هم وشي.

۱۰: وسلې د جګړې يو عمده عامل دئ، هر څوک چې له افغان دولت سره سوله کوي، بايد د وسلو غونډولو موضوع مطرح شي، که مطرح نه شي، دا وېره شته چې دا وسلې د يوې بلې جنګي ډلې لاس ته ولوېږي او جګړه دوام ومومي.

**يادونه:**

که نړيواله ټولنه او افغان دولت د افغانانو د ملي ګټو خلاف ګامونه واخلي، نو د افغانستان د ملي انسجام حرکت به په سوله ييز ډول خپلو اعتراضونو ته دوام ورکړي او خپلې غوښتنې به نړيوالو قانوني مراجعو ته وړاندې کړي.

**په درنښت**

**د افغانستان ملي انسجام حرکت عالي شورا له خوا**

د ۱۳۹۹ کال د سرطان د مياشتې پر ۲۶ نېټه د بشر حقوقو د خپلواک کميسيون د رئيس سره او ۱۳۹۹ کال د زمري د مياشتې پر ۴ نېټه د ملل متحد د سولې د برخې مسؤل ښاغلي ستيفن سره په انلاين ډول مجلس وسو، ورځنې مجلسونه د ولسي، سياسي شخصيتونو او مختلفو ګروپونو سره تر سره کېږي.

د ۱۳۹۹ کال د سنبلې مياشتې پر ۵ نېټه دوهمه اعلاميه چې پنځه خونديتوبونه او څوارلس مادې پکښې نغښتې دي د رسنيو پر مخ وړاندې سول، داخلي، بهرنيو مراجعو، سازمانونو او نړيوالو محکمو ته و لېږل سوه.

**د افغانستان ملي انسجام حرکت د دوهمي اعلامیې متن**

**موږ د افغانستان د ټولو خلکو لپاره خوندیتوب غواړو**

**پنځه مصؤنیتونه او څوارلس مادې د دوهمې اعلامیې د د افغانستان د ملي انسجام حرکت**

**د خپرونې نیټه چهارشنبه : ۵ سنبله ، ۱۳۹۹ (۲۸ آپریل ۲۰۲۰)**

د افغانستان ملي انسجام حرکت یو ملي او ولسي خوځښت دئ چې د افغانستان له بېلابېلو اقشارو، سیاسي ګوندونو، مدني ټولنو، صنفي اتحادیو، دیني علماوو قومي مشرانو او ټولنې له مخورو شخصیتونو څخه جوړ شوی چې هدف یې د افغانستان ملي خوندیتوب دئ.

دا حرکت نه مدني ټولنه او نه هم تر اوسه پورې سیاسي ګوند دئ، بلکې یو ولسي حرکت او خوځښت دئ چې د ټولنې د ټولو اقشارو د خوندیتوب او ګټو لپاره کار کوي، زموږ حرکت نه اپوزیشن او نه هم د حکومت ملګری دئ، موږ ملي خوندیتوب غواړو، که حکومت، سیاسي ډلې، مدني ټولنې او د ټولنې هر مخور شخص زموږ د پروګرام ملاتړ وکړي موږ یې هرکلی کوو.

موږ په افغانستان کې دننه یو بل نه ملامتوو، ځکه موږ پوهېږو چې زموږ د بدمرغی اصلي عوامل د افغانستان له پولو څخه دباندې دي، څرنګه چې زموږ ستونزه یوه نړیواله ستونزه ده، باید حل یې هم نړیوالو ټولنو ته راجع شي، موږ خپله طرحه د یوې حقوقي دعوې په بڼه چمتو کړې او نړوالو حقوقي او قضایي ادارو ته مو راجع کړې ده، د دې تر څنګ مو د څو هېوادونو سفارتونو او پارلمانونو ته هم سپارلې ده، ځینو نړیوالو ادارو رسماً خبر راکړی چې ستاسي دعوه مو واخیسته او غور ورباندې کوو، خو ځینو ادارو لا تر اوسه پورې خبر نه دئ راکړی، اوس هم د کورونا له امله ډېرې ادارې تړلې دي، که دا بندیزونه لیرې شول، موږ به د خپلې دعوې لپاره مدافع وکیلان ونیسو او په نړیواله کچه به خپله دعوه مخ ته یوسو.

موږ حکومت هم د ملت برخه بولو، که چېرې موږ دا دعوه وګټله او نړیوالو مو ملاتړ وکړ، په دې کار کې د حکومت هم خیر دئ. موږ له حکومت څخه هم غوښتي چې دا دعوه تر نړیوالې ټولنې پورې ورسوي او زموږ لاسنیوی وکړي، موږ دا موضوع د افغانستان پارلمان، امنیت شورا، بهرنیو چارو وزارت او ولسمشرۍ دفتر سره شریکه کړې ده، خو له بده مرغه چې دوی موږ ته جواب نه دئ راکړی.

د افغانستان ملي انسجام حرکت اوس مهال په دوو برخو کې کار کوي، یو په نړیواله سطحه هڅې کوو چې دا دعوه تر حقوقي ادار پورې ورسوو، بهرنیو پارلمانونو او سیاسي ګوندونو سره اړیکي نیسو چې خپل حکومتونه قانع کړي، تر ډېره حده مو هڅه دا ده چې نړیوال د بن د ۱۳۸۶ پریکړې له مخې قانع کړو او ورته ووایو چې دلته یو پوره ملت له تباهۍ سره مخ دئ، موږ ورک کېږو، موږ د نړیوال کلي یو کور یو، موږ حق لرو چې د نړیوال مدنی او سیاسي حقوقي میثاق د دوهمې برخې څلورمې مادې د ۱۹۶۶م کال د ډسمبر د مصوبې له مخې نړیوال سازمان مکلف دی چې د افغانستان د ملت څخه په اوسني خاصو شرایطو کښې حمایت وکړي.

زموږ د کار بله برخه د خلکو انسجام او یووالی دئ، موږ د ټولنې له بېلابېلو اقشارو سره خبرې کړی دي، موږ وینو چې هېڅوک هم د خوندیتوب احساس نه کوي، زموږ د دعوې نوم (ملي خوندیتوب) دئ چې پر پنځو برخو وېشل شوی دئ:

۱: سیاسي خوندیتوب

۲: نظامي خوندیتوب

۳: اجتماعي خوندیتوب

۴: اقتصادي خوندیتوب

۵: محیطي خوندیتوب.

**الف: سیاسي خوندیتوب:**

لومړۍ ماده:

د افغانستان د سولې په برخه کې د امریکا متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد دریځ او لیدنې کتنې اوس هم ملت ته پوره روښانه نه دي. څرنګه چې د سولې یو اړخ افغانان دي، نو باید د سولې په اړه هره موافقه، هره خبره او هر چا سره هوکړه لیک له عامو افغانانو سره شریک شي. موږ د ښاغلي خلیلزاد د ځینو ملاقاتونو، پټو خبرو او تړونونو په اړه شکونه او اندېښنې لرو، باید ښاغلی خلیلزاد موږ ته معلومات راکړي چې د سولې خبرې تر کومه ځایه رسېدلې، په دې لاره کې ستونزې څه دي؟ بل پړاو یې څه دئ او په دې پړاو کې د افغانانو ملي ګټو ته څومره پام شوی دئ؟

دوهمه ماده:

کله چې نړیوالې ټولنې، په تېره بیا امریکایانو د طالبانو رژیم رانسکور کړ، هغه وخت د امریکایانو پلمه دا وه چې موږ په افغانستان کې نړیوال تروریزم ځپو او د طالبانو رژیم یې هم له دې امله پړ وباله چې د القاعده شبکې مشر اسامه بن لادن او د هغه انډیوالانو ته یې پناه ورکړې ده، خو نن امریکایانو د جګړې له اصلي طرف، یانې نړیوالو تراهګرو ډلو سره روغه نه ده کړې، موږ دا اندېښنه لرو چې د جګړې اصلي عواملو ته پام نه دئ شوی. بله خبره دا ده چې هغه وخت په افغانستان کې یوازې د (القاعده) په نوم تراهګرې ډلې فعالیت کاوه، خو نن داعش او داسې نورې ډلې هم فعالیت کوي، موږ پوهېږو چې د افغانستان جګړه تر پخوا ډېره پېچلې شوې او سخته شوې ده، اوس به د دې ضمانت څوک کوي چې یوازې له طالبانو سره د سولې له لارې به په افغانستان کې جګړه بندېږي؟ ځکه د جګړې اصلي عوامل نه پخوا طالبان وه او نه هم اوس طالبان دي، بلکې د جګړې اصلي عوامل نړیوال تروریزم او د نشه یي موادو نړیوالې مافیایي ډلې دي چې په دې اړه امریکایانو تر اوسه پورې افغانانو ته هیڅ ډول ډاډ نه دئ ورکړی، موږ په دې اړه اندېښنې لرو او باید موږ ته وضاحت راکړل شي. موږ له طالبانو سره د سولې ملاتړ پخوا هم کړی او بیا یې هم کوو، خو د دې لپاره چې دا سوله یوه بله جګړه و نه زېږوي باید د جګړې اصلي عواملو ته پام وشي چې هغه د افغانستان له پولو څخه دباندې د تراهګرو د روزلو ځالې او نشه یي موادو د قاچاقو نړیوالې مافیایي ډلې دي چې د تراهګرو ډلو مالي سرچینې دي.

دریمه ماده:

امریکایانو، ناټو او متحدینو یې ژمنه کړې وه چې په افغانستان کې به تراهګر ځپي او افغانستان به له نشه یي بوټو څخه پاکوي، دا ژمنه یې هم کړې وه چې په افغانستان کې به ډیموکراټیک بنسټونه جوړوي، خو موږ وینو چې دا هدف یو هم نه دئ تر لاسه شوی، خو افغانانو ته خورا ډېر زیان اوښتی دی، اوس باید نړیواله ټولنه افغانانو ته وضاحت ورکړي چې د دې ناکامۍ علتونه څه دي؟ د دې ناکامۍ مسئولیت د چا پر غاړه دئ او تر دې وروسته به د افغانستان برخلیک څنګه کیږي؟

څلورمه ماده:

د طالبانو او امریکایانو تر منځ د سولې تر موافقې وروسته نه یوازې دا چې جګړه کمه شوې نه ده، بلکې نوره هم ډېره شوې ده، په دې جګړه کې ملکي خلکو او عامه تاسساتو ته تر ټولو ډېر زیان اوښتی دئ. موږ په مخکینۍ اعلامیه کې هم ویلي او بیا هم وایو چې د تلپاته سولې لپاره اوربند اساسي شرط دئ، موږ پر نړیواله ټولنه، په تېره بیا امریکایانو او طالبانو باندې غږ کوو چې تر بین الافغاني خبرو مخکې دي اوږد مهاله اوربند وکړي.

پنځمه ماده:

طالبانو د قطر په تړون کې امریکایانو ته ډاډ ورکړی چې له نړیوالو ترهګرو ډلو سره به اړیکې پرې کوي، خو دا ډاډ یې نه دئ ورکړی چې د نشه یي موادو له مافیایي ډلو سره به هم اړیکې پرې کوي، موږ هیله لرو چې په بین الافغاني خبرو کې دې موضوع ته هم ځای ورکړل شي.

شپږمه ماده:

په افغانستان کې په پراخه پیمانه کېمیاوي نشه یي مواد تولید کیږي لکه هیرویین، ښیښه او داسي نور، خو هغه پریکرسرونه یا کېمیاوي مواد چې د دې نشه یي موادو په جوړولو کې کارول کیږي، له ګاونډیو هېوادونو څخه افغانستان ته راوړل کیږي، نړیواله ټولنه باید زموږ پر ګاونډیانو غږ وکړي چې خپلې پولې وڅاري، ځکه هغوی دا توان لري چې پر خپلو پولو د قاچاقو مخه ونیسي، خو که د دې قاچاقو مخه نه نیسي، نو دا مانا لري چې د دوی نظامیان له نړیوالو مافیایي ډلو سره لاس لري.

## ب: نظامي خوندیتوب:

اوومه ماده:

زموږ سیاسي ثبات، ملي امنیت، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي وحدت د امنیتي ادارو په پیاوړتیا پورې تړلی دئ، موږ د دې ادارو د خوندیتوب په اړه اندېښنې لرو؟ موږ له افغان دولت څخه غواړو چې امنیتي ادارې له سیاسي او قومي تمایلاتو او فساد څخه پاکې کړي، دغه ډول له نړیوالې ټولنې، په تېره بیا امریکایانو څخه وضاحت غواړو چې له طالبانو سره تر سولې وروسته به د دې ادارو برخه لیک څنګه کیږي؟ ځکه طالبانو یو ځل د قطر په غونډه کې رسنیو ته ښکاره وویل چې اوسنۍ امنیتي اداره به منحل کیږي. بل دا چې موږ د ۱۳۷۱ شمسی کال د وختونو ترخه تجربه لرو، موږ نه غواړو چې دا تجربه بیا تکرار شي.

## ج: اجتماعي خوندیتوب:

اتمه ماده:

موږ پخوا هم د طالب زندانیانو د ازادېدو ملاتړ کړی او بیا یې هم کوو، خو د دې زندانیانو د خوندیتوب خبره هم کوو، موږ غواړو چې دا زندانیان دې عادي ژوند ته راوګرځي، زموږ غوښتنه دا ده چې نه یې څوک وځوروي او نه یې هم څوک بیرته جګړې ته وهڅوي، او همدا رنګه د هغه شهیدانو او معلولینو د وارثینو لپاره د حقه حقوقو غوښتونکي یو ځکه چې دوي خپل ځانونه د نړیوال تروریزم په مبارزه کې او د دمکراسي نه د دفاع په خاطر قرباني کړي دي.

نهمه ماده:

موږ د ټولو افغانانو لپاره خوندیتوب غواړو، تر څو چې د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د سولې ضمانت نړیوالې ټولنې، په تېره بیا امریکایان او انګرېزان و نه کړې، دا سوله یوه نوې جګړه زېږوي، که طالب له حکومت سره یو ځای کېږي او د طالب ځای یوه بله جنګي ډله نیسي، نو دا ډله د طالبانو ملکي ملاتړو ته هم خطر دئ، موږ د هغوی خوندیتوب هم غواړو، هغوی هم افغانان دي، باید د سر، مال او عزت ساتنه یې وشي.

لسمه ماده:

افغانستان له امریکایانو سره دوه اړخیز امنیتي تړون یا (BSA) لاسلیک کړی، خو بیا هم له څو کالو راهیسې پر کونړ ولایت باندې د پاکستان له خوا توغندي راواوري، موږ له امریکایانو څخه هیله کوو چې د خپل مسئولیت له مخې د دې بریدونو مخه ونیسي او یا دې موږ ته وضاحت راکړي چې د دې بریدونو مخه ولې نه نیسي؟

یوولسمه ماده:

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې افغانان ځورول کېږي او حقوق یې تر پښو لاندې کېږي چې یوه بېلګه یې څه موده مخکې د ایران د پوله ساتو ځواکونو له خوا د څو افغانانو وژل و، موږ له نړیوال بشري سازمان څخه غواړو ، چې د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق د دریيمي برخې نهمې مادې مطابق او همداسې د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې شپږمې مادې له مخې د افغانانو د حقوقو او ازادۍ څخه دفاع وکړي.

دوولسمه ماده:

طالبان یوه جنګي ډله ده، کله چې امریکایان له هغوی سره د سولې تړون کوي او بیا په دولت کې مدغم کېږي، نو د هغو نظامي افسرانو برخلیک به څنګه کېږي چې په تېرو نولسو کالو کې یې د افغان دولت، ملي او اسلامي ارزښتونو، ډیموکراسۍ او بشري حقونو په ملاتړ او دغه ډول یې د نړیوالې تراهګرۍ او نشه یي موادو پر ضد مبارزه کړې ده؟ په تېره بیا د هغو نظامي افسرانو، قاضیانو او څارنوالانو، دغه ډول د هغو ملکي مامورینو د ژوند ضمانت به څوک کوي چې اوس تقاعد سوي او په تش لاس په کورونو کې ناست دي؟ ځکه طالبان پخوا یوازې مسلح وه، خو اوس به هم مسلح او هم به سیاسي واک ولري، دا ضمانت به څوک ورکوي چې دوی به غچ نه اخلي؟ دا ضمانت به څوک ورکوي چې دوی به ټول سولې ته غاړه ږدي، پر څو ډلو به نه وېشل کېږي او یوه ډله به یې بیا هم د جنګ او غچ اخیستلو لپاره په جبهه کې نه پاتې کېږي؟ موږ په دې اړه له نړیوالې ټولنې، په تېره بیا امریکایانو او انګرېزانو څخه وضاحت غواړو.

**د: اقتصادي خونديتوب:**

ديارلسمه ماده:

په رسنيو کې ځو ځله داسې راپورونه خپاره شوي چې له افغانستان څخه په غير قانوني ډول پيسې ايستل کيږي، موږ له نړيوالې ټولنې څخه غوښتنه کوو چې د دې پيسو مخه ونيسي، ځکه دا کار نه يوازې دا چې په افغانستان کې جرمونو ته لاره اواروي، بلکې جرمي اقتصاد هم پياوړی کوي.

**ه: محيطي خونديتوب:**

څوارلسمه ماده:

په افغانستان کې د نشه يي بوټو کښت او نشه يي موادو کارخانو زموږ د ژوند چاپېريال ته سخت زيان رسولی دئ، د نشه يي بوټو ګټه د نړيوالو مافيايي ډلو جېب ته لوېږي، خو زموږ بېچاره ولس غنم، مېوه، او سبزيجات د ګاونډيانو څخه په لوړه بيه رانيسي، د نشه يي موادو مافيايي باندونه بزګر هڅوي چې ژور کوهي وکيني، په دې ډول وينو چې ورځ په ورځ تر ځمکه لاندې د اوبو سطحه ټيټېږي چې دا کار په راتلونکې کې موږ ته يو لوی خطر دئ، موږ له نړيوالې ټولنې څخه غواړو چې په افغانستان کې د تروريزم تر څنګ د نشه يي موادو مافيايي ډلې هم وځپي، که دا کار نه شي کولای، لږ تر لږه دې د نشه يي موادو د قاچاقو نړيوالې لارې وتړي.

**يادونه:**

د هغه اداري لکه يوناما، ولسي جرګه، مشرانو جرګه او امنيت شورا چې زموږ دعوه يې تر نړيوالو حقوقي سرچينو پورې نه ده رسولې له دوي څخه غواړو چې زموږ عريضه او طرحه تر نړيوالو حقوقي ادارو و رسوي.

**په درنښت**

**د افغانستان ملي انسجام حرکت عالي شورا له خوا**

د دوهمي اعلاميې د وړاندي کولو وروسته د افغانستان ملي انسجام حرکت د مشرتابه شورا د غړو مجلسونه او ليدني د سياسي شخصيتونو او مربوطه ارګانونو سره په دوامداره ډول وي.

۱: د چيک جمهوريت د ښاغلي سفير سره مجلس ۶ سنبله ۱۳۹۹

۲: د قومونو، قبايول او سرحداتو مخکني وزير ښاغلي ګل آغا شيرزی سره ليدنه ۱۲ سنبله ۱۳۹۹

۳: د سيګار د مسؤلينو سره آنلاين مجلس ۲۰ سنبله ۱۳۹۹

۴: د اسلامي حزب د شورا ګانو د اتحاد رئيس ښاغلي جمعه خان همدرد سره ليدنه ۲۳ سنبله ۱۳۹۹

۵: د عفوي د نړیوال سازمان د نماینده سره لیدنه ۸ میزان ۱۳۹۹

۶: د اهل تشیع د علماو سره لیدنه ۲۹ میزان ۱۳۹۹

۷: د مخکني جمهور رئیس د مرستیال ښاغلي یونس قانوني سره لیدنه ۳ قوس ۱۳۹۹

۸: د سنګلاخ د خلکو شورا سره لیدنه ۱۳ قوس ۱۳۹۹

۹: د عمرخیلو د قوم شورا سره لیدنه ۱۷ قوس ۱۳۹۹

۱۰: د ملي امنیت شورا د سلاکار مرستیال ښاغلي سرور احمدزي سره لیدنه ۲۷ قوس ۱۳۹۹

۱۱: د مخکني جمهور رئیس جلالتمآب حامد کرزي سره لیدنه ۸ جدی ۱۳۹۹

۱۲: د افغانستان قاضی القضات ښاغلي محمد یوسف حلیم سره لیدنه ۱۳ جدی ۱۳۹۹

۱۳: د یوناما د سیاسي مرستیالي اغلي جولینا سره لیدنه ۱۶ جدی ۱۳۹۹

۱۴: د جمهور رئیس د مرستیال ښاغلي استاد سرور دانش سره لیدنه ۲۱ جدی ۱۳۹۹

۱۵: د مشرانو جرګې رئیس ښاغلي فضل هادي مسلمیار سره لیدنه ۲۷ جدی ۱۳۹۹

۱۶: د ولسي جرګې د بودجې او مالي کمیسیون غړي ښاغلي میرداد خان نجرابي سره لیدنه ۴ دلوه ۱۳۹۹

۱۷: د دفاع وزارت سرپرست وزیر ښاغلي شاه محمد میاخیل سره لیدنه ۱۲ دلوه ۱۳۹۹

۱۸: د کابل ولایت د مختلفو ناحیو وکیلانو او مشرانو سره لیدنه ۲۰ دلوه ۱۳۹۹

۱۹: د عدالت غوښتونکو د اجتماعي شورا سره لیدنه ۲۵ دلوه ۱۳۹۹

۲۰: د بشر حقوقو کمیسیون د کمیشنر او مرستیال ښاغلي محمد نعیم نظري سره لیدنه ۳ حوت ۱۳۹۹

۲۱: د ملي امنیت مخکني رئیس او د افغانستان د خلکو محور حزب مشر ښاغلي رحمت الله نبیل سره لیدنه ۱۶ حوت ۱۳۹۹

۲۲: د افغانستان د خلکو ابتکار ګوند مشر ښاغلي حامد انوري سره لیدنه ۱۷ حوت ۱۳۹۹

۲۳: د سیګار د مسؤلینو سره آنلاین مجلس ۲۵ حوت ۱۳۹۹

۲۴: د افغانستان د مختلفو ولایتونو د ولسوالانو سره لیدنه ۲۵ حوت ۱۳۹۹

۲۵: په کابل ولایت کې میشتو سفارتونو سره لیدنې

۲۶: د لوي ښارنوالي مرستیال ښاغلي قیس باوري سره لیدنه ۲۷ ثور ۱۴۰۰

۲۷: د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي حنیف اتمر سره لیدنه ۱۰ سرطان ۱۴۰۰

۲۸: ملي امنیت شورا سلاکار ښاغلي حمدالله محب سره لیدنه ۲۳ سرطان ۱۴۰۰

۲۹: د سیمیزو ارګانونو رئیس ښاغلي شمیم خان کتوازي سره لیدنه ۲۳ سرطان ۱۴۰۰

د افغانستان ملي انسجام حرکت د خپلي دوهمي اعلاميي پر بنياد چي پنځه خونديتوبونه لري پنځه کمېټې جوړي کړي دي.

۱: د نظامي خونديتوب کمېټه ۲: د اقتصادي خونديتوب کمېټه ۳: د حقوقي خونديتوب کمېټه ۴: د اجتماعي خونديتوب کمېټه ۴: د محيطي خونديتوب کمېټه

د هري کمېټې د رهبري په جوړښت کي رئيس، مرستيال، منشي، مالي مسؤل، د رسنيو مسؤل موجود دي، چي د ازادو ټاکنو لخوا د مشرتابه شورا څخه ټاکل کيږي او نور غړي ئې د خپلو تجربو او تخصص پر اساس د عالي شورا څخه چي ۲۳۳ نفره دي ټاکل کيږي.

د تير کال په جريان کي د وخت د تقاضا او شرايطو پر اساس د کمېټو جلسې په منظم ډول تر سره سوي دي، او په جلساتو کي تر بحث لاندي نيول سوي موضوعاتو په اړه د دارالانشاء رياست او مشرتابه شورا ته راپور ورکول سوي دي.

د ۱۳۹۹ کال د جدی مياشتي پر ۱۶ نېټه د افغانستان ملي انسجام حرکت د وظيفو کړنلاره په درو فصلونو او شپږويشتو مادو کي ترتيب او د ياد حرکت مشرتابه شورا او عالی شورا تصويب ته وليږل سوه.

همدا رنګه د افغانستان ملي انسجام حرکت حقوقي دعوه او طرحه د مقاماتو، ولسي او سياسي شخصيتونو سره د ليدنو په ترڅ کي او يا هم د ايميل د لاري شريکه سول.

۱: د بلخ ولايت مخکني والي ښاغلي ستر جنرال استاد عطا محمد نور ۹ ثور ۱۳۹۹

۲: د افغانستان دولت د سولي مذاکراتي پلاوي غړي ښاغلي مولوي عطاءالله لودين ۲۵ اسد ۱۳۹۹

۳: د داخله چارو مخکني وزير ښاغلي مسعود اندرابي ۲۵ اسد ۱۳۹۹

۴: د عدليې وزارت مخکني وزير ښاغلي سيد يوسف حليم ۱۲ سنبله ۱۳۹۹

۵: د ملي ژغورني جبهې مشر ښاغلي دوکتور ذبيح الله مجددي ۲۲ ميزان ۱۳۹۹

۶: په سياسي چارو کي د ولسمشر ستر سلاکار ښاغلي الحاج محمد داوود ګلزار ۸ عقرب ۱۳۹۹

۷: ملي مصالحي عالي شورا ته د ښاغلي يونس قانوني په واسطه ۳ قوس ۱۳۹۹

۸: د اسلامي جمعيت مرستيال او ملي مصالحي عالي شورا غړي ښاغلي کليم الله نقيبي ۳ قوس ۱۳۹۹

۹: د ولسي جرګې منشي ښاغلي کريم اتل ۲۴ قوس ۱۳۹۹

۱۰: د جمهوري رياست سلاکار او مخکني د داخله چارو وزير ښاغلي نور الحق علومي ۱۲ جدی ۱۳۹۹

۱۱: د ولسي جرګې غړي ښاغلي ملا عزت عاطف ۱۶ دلوه ۱۳۹۹

۱۲: د سولي د خبرو پلاوي رئيس ښاغلي محمد معصوم ستانکزي ۲۰ حوت ۱۳۹۹

۱۳: د مشرانو جرګې د شکایاتو اوریدو کمیسیون رئیس ښاغلي زلمي زابلي ۲۴ حوت ۱۳۹۹

۱۴: د ملي امنیت ریاست او د یاد ریاست مرستیالان ۲۷ ثور ۱۴۰۰

۱۵: د لوی څارنوالي مشرتابه د لوي څارنوالي د مرستیال په واسطه ۲۷ ثور ۱۴۰۰

د تیر یو کال په جریان کې تر ۵۰۰ ډیر ولسي مجلسونه او تر ۲۰۰ ډیر مجلسونه د سیاسي حزبونو، نهادونو او مدني ټولنو سره د افغانستان ملي انسجام حرکت د مشرتابه شورا لخوا سوي دي، همدا ډول د کورنی او بهرنیو رسنیو سره تر سلو ډیري مصاحبې د یاد حرکت د رئیس او مشرتابه شورا د غړو سره ترسره سوي دي.

ولسي حرکتونو، نهادونو، ولسي او سیاسي شخصیتونو هم د تیر کال په جریان کښي د افغانستان د ګوټ ګوټ څخه د یاد حرکت د حقوقي دعوې او طرحي ملاتړ وکړ.

د ۱۳۹۹/ تلې/ ۲۲ نېټه ښاغلي ذبیح الله مجددي د ملي ژغوني جبهې مشر د افغانستان ملي انسجام حرکت د مشر جنرال حمدالله نازک سره په لیدلنه کښي د یاد حرکت د حقوقي دعوې او طرحي څخه ملاتړ وکړ، همدا راز د ۱۳۹۹/ سنبلې/ ۵ نېټه ئې هم د یوي اعلامیې په وړاندي کولو سره خپل ملاتړ د یاد حرکت د طرحي او حقوقي دعوې څخه اعلان کړي وو.

د ۱۴۰۰ سرطان ۹ نېټه د افغانستان اتحاد او اتفاق شورا په کندهار کښي د یوي لویي غونډي په جوړولو سره چي زرهاوو افغانانو پکښي ګډون کړي وو د یو قطعنامي په وړاندي کولو ئې خپل خلاتړ د افغانستان ملي انسجام حرکت د حقوقي دعوې او طرحي څخه خپل ملاتړ اعلان کړ.

د افغانستان ملي انسجام حرکت د حقوقي دعوې د ملاتړ فورمه یا (پیټیشن) د یوي معلوماتي پاڼي سره یوځاي وي، چي په هغه پاڼه کښي د حرکت اهداف په مفصل ډول تشریح سوي دي. د ملاتړ فورمه چي باید د شخص سن تر اتلس کلونو پورته وي ډکولاي سي، او د شخص په امضاء یا ګوتي په نښان تائیدیږي. تائید سوي فورمه د مسؤل شخص لخوا سکن او د نیما ډیټابیس کي ثبتیږي. د ۱۴۰۰ کال زمري ۱ نېټې پوري۴۳۰۰۰ درو څلویښت زره د نیما د حقوقي دعوې او طرحي د ملاتړ فورمې د نیما دفتر ته تسلیم سوي دي، چي ۲۵۰۰۰ پنځه ویشت زره فورمي پروسس او تائید سوي، ۱۰۰۰۰ لس زره فورمي تر پروسس لاندي دي او ۸۰۰۰ اته زره نوري فورم د شرایط د نه پوره کولو له کبله باطلي سوي دي، د افغانستان ملي انسجام حرکت د حقوقي دعوي او طرحي د ملاتړ فورمي د یاد حرکت د عریضي او طرحي سره یو ځاي د ملل متحد، نړیوالو محکمو، او نورو نړیوالو مربوطه سازمانونو ته لیږلي دي. د هیواد اوسني امنیتي وضعیت په لیدلو سره د نیما حقوقي دعوي د ملاتړ فورم غوښتونکو تعداد هم ورځ په ورځ ډیریږي چي فعلا په ۲۴ ساعتونو کښي په حضوري، ایمیل او یا هم د نورو ارتباطي لارو په واسطه نږدې ۱۰۰۰ زر فورمي دنیما دفتر ته تسلیمیږي.

هیره دي نه وي چي د فورمونو د توزیع پروسه په انلاین او حضوري ډول ده، او د افغانستان ملي انسجام حرکت په نوم یو فیسبوکي صفحه او یو ویبسایټ www.nima.af هم موجود دي چي ددې بهیر په اړه ورځني معلومات نشروي او خلک خبروي.

د ۱۴۰۰ کال حمل میاشتي پر ۳۱ نېټه د نیما مشرتابه شورا د ملل متحد سازمان سیاسی نماینده اغلي لوسي سره ولیدل په لیدنه کښي د نیما حقوقي دعوي او طرحي تر څنګ د حقوقي دعوي د ملاتړ فورمې هم ورته تسلیم سوي.

د ۱۴۰۰ کال د ثور د میاشتي پر ۵ او ۱۲ نېټه او همدا ډول ۱۴۰۰ کال جوزا میاشتي پر ۳۱ نېټه یو شمېر مکتوبونه تبادله سول. د ۱۴۰۰ کال د ثور د میاشتي پر ۵ او ۱۲ نېټه او همدا ډول ۱۴۰۰ کال جوزا میاشتي پر ۳۱ نېټه یو شمېر مکتوبونه د ملل متحد د فتر سره تبادله سول. او اخری مکتوبونه چي د نیما له طرفه لیږل سوي دي د ۱۴۰۰ کال د اسد مایشتي پر ۵ او ۱۲ نېټه وه.

همدا راز د ۱۴۰۰ کال د اسد میاشتي پر ۱۳ نېټه د افغانستان اسلامي جمهوریت د جمهور رئیس سره مجلس وسو چي د افغانستان ملي انسجام حرکت حقوقي دعوه او طرحه ورته واړندي سول.

**جنرال حمدالله نازک**

**د افغانستان ملي انسجام حرکت رئیس**

---

**ادرس:** خانه نمبر۵۸، روبروی کورس بوعلی سینا، کوچه تالار مجلل، نزدیک چهار راهی دهمزنگ، سرک دارالامان، کابل.

**شماره تماس:** +93 (0) 700888882

**ایمیل ادرس:** Declaration.nima@gmail.com